**واقعي مشران له چا فرصت نه اخلي، بلکې ورکوي يې!**

**بسم الله الرحمن الرحيم**



**خبر:**

ولسمشر اردوغان د بلژيک په پلازمينه بروکسل کې د ناټو په ناسته کې ګډون کړی او په دې اړه يې خبرياالانو ته داسې توضيح ورکړه، چې دلته يې ځينو د پام وړ ټکو ته اشاره کېږي: «موږ له دوی سره د اروپايي اتحاديې د غړيتوب په پروسه کې د چټکی په اړه يوه مثبته کتنه درلوده. هغه پېښې، چې د ټولپوښتنې په لړ کې رامنځته شوې، بايد هېرې شي. اوس نوي بهير ته اړتيا ده، چې د اروپايي اتحاديې شورا رييس ډونالد تسک او د اروپا کميسيون رييس ژان کلود جانکرنيس په واسطه طرحه کېږي. دوی ځينې کارونه کړي او اوس موږ د هغه کارونو د سرته رسولو لپاره، چې دوی پيل کړي دي، دولس مياشتې وخت لرو. موږ به په دې وخت کې له وزراتخونو او اروپايي اتحاديې سره کار وکړو او هغه ته په کتو به ګامونه واخلو. (سرچينه: hurriyetdailynews.com)

**تبصره:**

ولسمشر اردوغان له اروپايي اتحاديې يوه نوې پروژه تر لاسه کړې او اروپايي اتحاديې د دې دندې د ترسره کولو لپاره ترکيې ته دوولس مياشتې وخت ټاکلی دی. حقيقي او واقعي حکامو به د ننيو حکامو خلاف، چې له نورو وخت ترلاسه کوي، نورو ته وخت ورکاوه او د اسلام تاريخ د دې ډول بېلګو شاهد دی. له صحابه وو ډېرو اميرانو د خپل حاکميت په وخت کې ايران او بيزانس ته فرصت ورکاوه، چې اسلام ته را وګرځي او اسلام قبول کړي. د مسلمانانو خليفه سلطان سليمان په شان او شوکت سره لاندې ليک د فرانسې پادشاه فرانسوا ته، په فرانسه کې د والتز په نامه د نڅاګرو د يوې ډلې د کړنو په اړه وليکه او ويې ويل: هغه خبر ته په کتو، چې په فرانسه کې مې له خپل سفيره تر لاسه کړی، زه له هغو ښځو او سړيو، چې يوځای نڅا کوي، خبر شوم او انديښمن يم، چې هسې نه دا مرض به زما سيمې ته خپور نه شي. که تاسې ژر تر ژره دا مرض (ناوړه عمل) له منځه يو نه سئ؛ زه به له خپل پوځ سره ستا د له منځه وړلو لپاره درشم.» د غربي تاريخپوه جوزف فون همر په قول له دغه ليک نه کلونه ورسته په فرانسه کې په عام محضر کې د نارينه او ښځې يو ځايي ګډا ناشونې وه.

اوس باید ننیو ورځو ته را وګرځو، نن ورځ چاراواکو په بروکسل کې، چې ویل یې ټول اروپایي هېوادونه د ترکیې دښمنان دي او همدارنګه یوه میاشت مخکې یې دوی ته د صلیبیانو خطاب کړی و؛ خوشاله دي چې له اروپایي اتحادیې نه یې په دغه اتحادیه کې د غړیتوب د پروژې د سرته رسولو لپاره دولس میاشتې وخت تر لاسه کړی دی. په حقیقت کې دوي د اپریل د ۱۶مې ټولپوښتنه په یوه صلیبي هلال جګړه بدله کړې ده. څه وخت مخکې ولسمشر اردوغان د ترکیې په وړاندې د اروپا له لوري د چمتو شوي رپوټ په اړه داسې وویل: «کوم رپوټ، چې د هانس او جیورج له لوري برابر شوی، په موږ پورې اړه نه لري؛ بلکې د احمد، محمد، ایشې او فاطمې رپوټ موږ ته د منلو وړ دی. همدارنګه هغه لاندې بیانونه هم وړاندې کړل: موږ د اپریل له ۱۶مې وروسته له اروپا سره ناسته او خبرې کوو، ځکه دا مسایل به نور د پخوا په شان نه وي.» ( سرچینه: رویټرز)
اوس څه پېښ شوي؟ یو نوی بهیر له اروپایي اتحادیې سره پیل او ولسمشر اردوغان دولس میاشتې نوی فرصت تر لاسه کړی دی. تاسې پوښتنه نه کوئ؟ زه یې پوښتم: ښاغلیه ولسمشره! دا هغه څه دي، چې تاسو تېره ورځ وویل، څه شي دې ته لېواله کړی یې، چې له اروپایي اتحادیې نه دې، چې د دې پروژې د سرته رسولو لپاره فرصت ترلاسه کړې، سرته ورسو؟ د الله سبحانه وتعالی په خاطر، دا ځه ډول انحراف او بدلون دی؟ په تاریخ کې د عثماني خلافت په وخت کې خلیفه سلطان سلیمان، چې تاسې ادعا کوئ چې ډېره مینه ورسره لرئ، اندیښمن و، چې د فرانسې په خاوره کې (نه په خپله خاوره کې) یوه رسوایي د خلافت تر واک لاندې سیمو کې نفوذ کولای شي او وخت یې ورکړ، چې دا چټلي له منځه یوسي؛ که نه خپله به له لوی لښکر سره د هغه د له منځه وړلو لپاره ورشي؛ خو تاسې د اروپایي اتحادیې تر کفري قوانینو لاندې د غرب چټلیو ته د تلو فرصت ترلاسه کوئ. په داسې حال کې، چې پورته تاسو غرب دوښمن او صلیبیان مو فریبکار وبلل! تاسې نه شرمېږئ، چې ټولنه احمقه کوئ؟ ښه پوهېږئ، چې د غرب واقعي نفرت ستاسو له شخصیت څخه نه، بلکې له اسلام او اسلامي امت څخه دی. کله چې ورسره یو ځای شئ، هغوی ته دوست وایئ او کله چې په مسلمانانو کې یاست، دوښمن یې بولئ. ښکاره وایئ، چې څوک دوست او څوک دښمن دي؟ موږ پوهېږو، چې دوست او دوښمن څوک دی. مسلمانانو هېڅکله غرب خپل دوست نه دی نیولی او نه یې نیسي او کفار هم مسلمانان په دوستۍ نه نیسي؛ ځکه دوی (کفار) یو د بل دوستان دي. تر کله به دروغو او د مسلمانانو غولولو ته ادمه ورکوئ؟

**محمود کار**

**د حزب التحریر- ولایه ترکیې د مطبوعاتي دفتر رئیس**

**د ۱۴۳۸هـ.ق، د رمضان۹مه**

**۲۰۱۷م، د جون ۴مه**